شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

رسول الله ﷺ فرمايي:
الله تعالی ستاسي شکلونو او شتمنيو ته نه ګوري؛ بلکې ستاسي و زړونو او عملونو ته ګوري•
[صحيح مسلم(۲۵۶۴)]
رسول الله ﷺ فرموده است
الله متعال به صورت و دارایی های شما نمی بیند؛ بلکه به قلب و اعمال شما می بیند.
[صحيح مسلم(۲۵۶۴)]
( د ماليي وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليي وزارت

شنبه| د رجب المرجب ۱۸-۱٤٤٦ل س/ د مرغومي ۲۹-۱٤۰۳ل ل/ د جنوري ۱۸-۲۰۲۵ز/خلورم کال / ۱۲۹ گڼه/ ٤ مخیزه


## سرمقاله

### آسیکودا یک سیستم کپمیوتری اداره گمرکی است

طوریکه شاهد هستیم کشور های جهان و منطقه به سرعت به سوی پیشرفت و راه اندازی سیستم های جدید و میکانیزه ساختن امور حمل و نقل، یکسان سازی امور اداری و تشریفاتی در بخش سازمان های گمرکی هستند. برای اینکه کشور ما از تغییرات و تحولات عقب نماند و بتواند همگام و همسو با این تغییرات ایجاد شده حرکت کند ریاست عمومی گمرکات که در چارچوب وزارت مالیه فعالیت می کند تلاش نمود تا امور اداری و پروسه های کاری تجارتی را مدرن سازی نماید و خوشبختانه توانست گام های موثری در این راستا برداشته و موفق به نصب سیستم های پیشرفته در اداره گمرکات کشور که امور تجارت داخلی و خارجی را بدوش دارد بردارد. از آنجای که تجارت یکی از امتیازات مهم هر کشوری محسوب میکردد. هر کدام از کشورهای که در این حوزه موفق تر باشند، طبیعتاً امتیازات بیشتری را هم به دست خواهند آورد. همانگونه که مطلع هستید، شرایط حاکم بر منطقه باعث شده تا براي انتقال اموال ترانزيتي از يك شيوه حمل استفاده شود. بنابراين براي ارائه خدمات بهتر باید بستر لازم انتقال مستقیم یا غیرمستقیم اموال فراهم شود و تسهیلات زیربنایی برای توسعه تجارت بین کشور های منطقه و فرامنطقه ایجاد گردد. آسیکودا يك سیستم الکترونیکی است که می تواند با تمامی قوانین و تعرفه های کشورهای مختلف هم سو شده و در هر کشوری مورد استفاده قرار گیرد: آسیکودا در بخش های طی مراحل اسناد اداری، پرداخت الکترونیکی، امور مربوط به حمل و نقل، و ترازیت بار های تجارتی را به صورت آنلاین کنترول و نظارت می کند.
یکی از دستاورد مهم و بزرگ وزارت مالیه نصب سیستم آسیکودای جهانی در امور ترانزیت خارجی در تمام گمرکات سرحدی می باشد که در قدم اول سبب ایجاد سهولت در طی مراحل اسناد اداری ،کاهش پروسه های اداری و طولانی مدت، جمع آوری تمام اسناد و اوراق گمرکی به صورت الکترونیکی، اعمال مدیریت ریسك ، معیاری سازی امور گمرکات، امنیت و جلوگیری از قاچاق اقلام و مواد، و نظارت امور به صورت آنلاین است. تطبیق کامل تمام مادیول های این سیستم، مهم ترین شاخص در ترانزیت یعنی کاهش هزینه های حمل و نقل بار ها، ارتقای کیفیت خدمات و سرعت عمل در انجام امور گمرکی می باشد. بهره گيري از طرح اسیکودای جهانی، این امکان را فراهم ساخته تا همه کارها به صورت يك پارچه و از طریق ریاست عمومی گمرکات انجام شود که در نتیجه هزینه های مربوطه کاهش، ايمني اقلام تجارتی ارتقا پیدا کرده و از هرگونه جعل و تقلب جلوگيري به عمل آید. میکانیزم سیستم بررسی و کنترول آنلاین بار های ترانزیتی این امکان را فراهم می سازد تا با استفاد از این شیوه نظارتی نسبت به بررسی هر یك از بار ها در هنگام ورود، طول مسیر و خروج آنها نظارت همزمان و همه جانبه صورت گیرد که این امر در سلامت ترانزیت نقش بسزايي خواهد داشت و در نتیجه کارکنان امور گمرکات از آخرین تحولات و رویداد های مربوط به امور حمل و نقل و نحوه ی فعالیت آنها به اسرع وقت مطلع شوند.

با احترام
اداره

## د برېښنايي حکومتولی پر لور یو بل ستر ګام



ماليې وزارت د مالي مديريت نوي معلوماتي سيستم ته وده ورکړې ده. د افميس نوی سيستم له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم د خزاينو لوی رياست د تخنيکي ټيم له لوري طراحي سوی دئ، چې موخه ئې د هيواد په عامه مالي سکټور کي د مالي چارو او لګښتونو مديريت، تنظيم، کنټرول او راپور ورکول دي.
د افميس مخکنی سيستم، په (۲۰۰۲م) کال کي د فريبلانس شرکت له لوري د نړيوال بانک په همکاری طرحه سوی وو او ټولي تخنيکي چاري ئې د همدې شرکت له لوري پرمخ وړل کېدې. په ورته مهال دغه سيستم له ټيټي چټکتيا او د ساتني له لوړ لګښت سره مخ وو. له همدې کبله د ماليې وزارت رهبری د نوي سيستم په جوړولو پريکړه وکړه، چې وکولای سي اوسنيو اړتياوو ته ځواب ويونکی او د بدلونونو منونکی وي.
د دغه سيستم پراختيا، چې د ماليې وزارت د تخنيکي ټيم له لوري ترسره سوې ده، د هيواد د مالي مديريت د ښه کېدو په برخه کي يوه ستراتيژيکه لاسته راوړنه بلل کېږي. د افميس نوی سيستم له نورو کليدي سيستمونو؛ لکه: د دولتي بوديجې د وړاندويني او برنامه ړيزی سيستم (SBPS)، د خزاينو د معاشونو مديريت سيستم (TPMS)، اسيکوډا سيستم (ASYCUDA)، د مالياتو د مديريت سيستم (SIGTAS) او د افغانستان بانک له سيستمونو (DAB) سره د نښلېدو وړتيا لري، چې د امارتي ادارو ترمنځ به د لا ښې همغږی سبب وګرځي.
دغه سيستم د دوو کلونو په اوږدو کي بشپړ او ازمايښتي ارزونه وربانـدي ترسره سوه، چي له ډاډ ترلاسه کولو وروسته په (۱۴) کليدي وزارتونو او (۸) ولايتي مستوفيتونو کي وازمايل سو او ښې پايلي ئې درلودې، چې د دې سيستم لېږدوونکو او پلي کوونکو ته د خزاينو لوی رياست له لوري تخنيکي روزنه هم ورکړل سوه.
د يادوني وړده، چې دغه سيستم به د مالي مديريت اسانه کولو، لګښتونو کمولو، روڼتيا تضمينولو او ځوابوينه کي مهم رول ولوبوي او د عامه مالي سکټور په برخه کي به اغېزمن تمام سي.

## د کابل نړیوال هوايي ډګر ګمرک او د کابل ګمرک ويجاړي سوي برخي بیا رغول کېږي

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د څه باندي (۵،۱) ميليونه افغانيو په ارزښت د کابل نړيوال هوايي ډګر ګمرك او د کابل ګمرك د ارشيف الماريو، اداري ودانيو او هنګرونو د بيارغولو چاري پيل کړې.
د دې پروژو په پلي کېدو سره به د ګمرکي سندونو د خوندي ساتلو ترځنګ د يادو ګمرکونو کارکوونکو او سوداګرو ته په بېلابېلو برخو کي اسانتياوي هم رامنځته سي.
د يادو پروژو لګښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي، چې چاري به ئې تر راتلونکو لسو مياشتو پوري بشپړي سي.
د يادوني وړ ده، چې ماليې وزارت سوداګرو ته د اسانتيا رامنځته کولو او په هيواد کي د سوداګری د لا ودې په موخه په بېلابېلو ګمرکونو کي ګڼي پراختيايي پروژې پلي کړي دي او ځيني ئې د پلي کېدو په حال کي دي.





## د ګمرکونو لوی رئيس د ننګرهار له والي او يو شمېر سوداګرو سره وکتل

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد د يوه تخنيکي پلاوي په مشرۍ ننګرهار ولايت ته رسمي سفر وکړ او هلته ئې د ننګرهار او تورخم ګمرکونو د چارو تر ارزوني وروسته، د ياد ولايت له والي حاجي ملا محمد نعيم اخوند او يو شمېر سوداګرو سره هم وکتل.
په دې ليدنو کي دواړو لوريو سوداګرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو او د ګمرکي چارو د لا ښه والي په موخه د دوه اړخيزي همکارۍ او همغږۍ پر لا زياتېدو خبري وکړې.
همدارنګه ښاغلي احمد د ننګرهار له سوداګرو سره په ليدنه کي د هغوی ستونزي واورېدې او ډاډ ئې ورکړ، چې سته امکاناتو او اصولو ته په کتو سره به د دوی ستونزو ته رسېدنه وکړي. همداراز نوموړي، مسؤلينو ته د چارو د لا ښه والي سپارښتني هم وکړې.
د يادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رياست پلاوي د ګمرکونو د ارزوني په موخه بېلابېلو ولايتونو ته سفرونه کړي او ترڅنګ ئې د سوداګرو او مسئولينو ستونزي له نیږدې اورېدلي دي.






د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت ۱۵ شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲




د ګمرکونو لوی رياست د روان کال ۱۸مه اداري ناسته وسوه

م ۲




د عوايدو ملي اکاډمی د روزنيزو پروګرامونو لړۍ لا هم دوام لري

م ۲



کار ساخت ليليه برای گمرک ابو نصر فراهی ۹۰ در صد تکميل گرديده

م ۲




Implementing Digital Payment Systems in Afghanistan

م ۳



د سورخندريا په سيمه کي د اُزبکستان - افغانستان ګډ بازار دننه حال

م ٤

# د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت ۱۵ شکايتونو ته رسېدنه کړې

د ماليې وزارت د شکايتونو د اورېدو خپلواک آمريت د دغه وزارت اړوند ټولو شکايتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د يو شمېر مسئولينو ناسم چلند ته د رسېدنې مسئوليت په غاړه لري او ترلاسه سوي شکايتونه په مستقيم ډول د وزارت له مقام سره شريکوي. دغه آمريت د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال لېندۍ مياشتي له پيل څخه د دغي مياشتي تر پايه پوري (۲۰) بېلابېل شکايتونه ترلاسه او اورېدلي دي، چي له دغه شمېر څخه (۱۵) شکايتونو ته رسېدنه سوې، (۲) تر کار لاندي دي او (۳) نور شکايتونه د کافي معلوماتو او شکايت کوونکو له لوري د اثباتيه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري لخوا بې بنسټه بلل سوي.

په دغو شکايتونو کي (۱۵) د واټساپ له لاري او (۵) نور په حضوري بڼه له دې اداري سره شريک سوي دي. په ترلاسه سويو شکايتونو کي ډېری د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کي دي، چي د دغه آمريت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده.

د يادوني وړ ده، چي ټول هيوادوال کولای سي، چي د ماليې وزارت د بېلابېلو څانګو په څانګړې توګه د عوايدي سرچينو او د ګومارني په برخه کي د اصلاحاتو په تړاو خپل شکايتونه، وړانديزونه او نظريات د برېښناليک، واټساپ، ټيليفون، حضوري بڼه او د شکايتونو د صندوق له لاري له دغې اداري سره شريک کړي، چي د شکايتونو د آورېدو آمريت به له طبقه بندۍ وروسته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه ورته کوي.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳/ ۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

واټساپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶

برېښناليک: Officialcomplaints@mof.gov.af



## د ګمرکونو لوی رياست د روان کال ۱۸مه اداري ناسته وسوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال (۱۸) مه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د ياد رياست په مقام کي وسوه. په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، رئيسانو او يو شمېر آمرينو ګډون کړی وو. په پيل کي د ولايتي ګمرکونو پر استول سويو موضوعاتو هر اړخيز بحث وسو او په اړه ئې د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي پرېکړې وسوې.

ور پسې له اجنډاء سره سم، د صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي توکو په ګمرکي طی مراحلو کي پر موجودو ستونزو او حل لارو، د ځينو سوداګريزو شرکتونو له لوري د ګمرکي سرغړونو پر مخنيوي، د ګمرکونو لوی رياست د ورځنيو چارو پر لا ښه والي، په ګمرکونو کي د يو شمېر سوداګريزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو او يو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په تړاو ئې لازمي پرېکړې وسوې.

## د عوايدو ملي اکاډمۍ د روزنيزو پروګرامونو لړۍ لا هم دوام لري

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له کلني تدريسي پلان سره سم، د ولايتي مستوفيتونو د سيستمونو برخي (۳۲) تنو مديرانو ته د عوايدو لوی رياست د سيستمونو په برخو کي د (مسلکي کولو) تر سرليک لاندي جوړ سوی روزنيز پروګرام د تصديق پاڼو په ورکولو سره پای ته ورسېد او بل خوا بيا د ولايتي مستوفيتونو اصنافو او مالياتي حوزو (۴۵) تنو کارکوونکو ته د سيستمونو، مالياتی قوانينو او طرزالعملونو په برخو کي روزنيز پروګرام پيل سو.

په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کي د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال نقيب الله عابد، د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د يادي اکاډمۍ ښوونکو ګډون کړی وو. د غونډې په پرانيستې وينا کي د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال، د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له آمريت او ښوونکو څخه مننه وکړه، چي د کارکوونکو له پاره ئې ټول شرايط برابر کړي؛ څو وکولای سي خپل درسونو په ښه توګه زده کړي، د دې ترڅنګ ئې سيستمونه د عوايدو رياست له پاره اړين وبلل او په هغه کي د ارقامو او معلوماتو پر دقيق ثبت، سمه کارونه، پوهاوي او ارزښت ئې ټينګار وکړ.



وروسته بيا د سيستمونو د مديرانو په استازيتوب ښايسته خان د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له آمريت څخه د ياد روزنيز پروګرام د برابرولو له امله مننه وکړه او ژمنه ئې وکړه، چي ټول ګډونوال به له دغه پروګرام څخه ترلاسه کړي زده کړې په خپلو ورځنيو رسمي چارو کي پلي کوي.

د غونډې په پای کي د دغه پروګرام ټولو ګډونوالو ته تصديق پاڼي هم ووېشل سوې.

د يادوني وړ ده، چي د ولايتي مستوفيتونو د اصنافو او مالياتي حوزو روزنيز پروګرام به شل ورځي دوام وکړي، چي ورسره به د يادو مستوفيتونو د کارکوونکو وړتياوي لوړې او په اړوندو چارو کي به لا ښه والی راسي.

## کار ساخت ليليه برای ګمرک ابو نصر فراهی ۹۰ در صد تکميل ګرديده

رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه کار ساخت ليليه به ارزش (۱۲،۸) ميليون افغانی در ګمرک ابونصر فراهی ولايت فراه را آغاز نموده که تا به حال (۹۰) در صد کارهای ساختمانی اين پروژه به پايه اکمال رسيده است. ليليه متذکره به شکل معياری اعمار خواهد شد، که دارای (۲۱) باب اطاق، حمام های عصری، تشناب و تجهيزات مهم ديګر را دارا خواهد بود، که با تکميل شدن آن سهولت های مزيد به کارمندان اين ګمرک فراهم خواهد شد.

قابل ذکر است که هزينه اين پروژه از بودجه انکشافی وزارت ماليه پرداخته می شود و کار باقی مانده آن عنقريب تکميل شده و به بهره برداری سپرده خواهد شد.



## برنامه آموزشی آنلاين برای کارمندان جديدالتقرر مستوفيت ها و ګمرکات زون شمال و شمال شرق داير ګرديد

رياست امور کارکنان وزارت ماليه برنامه آموزشی تحت عنوان "اساسات مديريت" را برای کارمندان جديد التقرر مستوفيت ها و ګمرکات زون شمال و شمال شرق داير نمود.

در نشستی که به همين مناسبت در سالون جلسات معينيت اداری اين وزارت برګزار ګرديده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معين اداری، مولوی عبدالهادی سيف الخالد، رئيس دعوت و ارشاد، داکتر اشرف الله ستانکزی، کارشناس ارشد امور کارکنان و کارمندان مستوفيت ها و ګمرکات زون های متذکره بطور آنلاين اشتراک داشتند.

معين اداری وزارت ماليه طی سخنانش ګفت، اساس هر کار آموزش و تعليم است. برای انجام کارها بوجه احسن بايد بياموزيد و زمينه اين کار برای شما فراهم شده است. با دقت و جديت از اين برنامه استفاده کنيد. آنچه را می آموزيد، يادداشت و به ديګر همکاران خود انتقال دهيد.



رئيس دعوت و ارشاد ګفت، از اُمراء خود اطاعت کنيد و از کار ها غفلت نکنيد. فرامين الهی را تطبيق و برای کسب روزی حلال تلاش کنيد. با مردم رويه نيک داشته باشيد و خود را مطابق به سنت پيامبر اسلام آراسته کنيد.

کارشناس ارشد امور کارکنان ګفت، در هر اداره سه نوع مديريت (مديريت عالی، متوسط و عملياتی) وجود دارد که امور و کار های اداره بدون آن پيش نمی رود. بناءً اګر مديران نسبت به مسئوليت ها و وظايف خود آګاهی داشته باشند، کارها به صورت اصولی اجراء می ګردد و در صورت عدم آګاهی و دانش نه تنها کارها بصورت درست انجام نمی شود که بخش مديريت عالی و متوسط نيز مختل می ګردد.

ګفتنی است که اين برنامه به مدت يک هفته ادامه داشته و در آن پلان ګذاری، سازماندهی، رهبری، کنترول، تصميم ګيری و طرز سلوک با کارمندان و مراجعين به اشتراک کنندګان تشريح خواهد شد.

## تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي يو ځل بيا قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، کندهار، فراه، ننګرهار او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي يو ځل بيا په زياته کچه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په نيول سويو توکو کي (۲۶۱۲۵) کيلو ګرامه ګوړه، (۴۷۳۲) کيلو ګرامه چاکليټ، (۹۷۳۰) کيلو ګرامه مالګه، (۲۷۹۶) کيلو ګرامه درمل، (۱۱۹۵۲) کيلو ګرامه کينو، (۵۱۲) کيلو ګرامه يووار مصرف لوښي او (۴۲۰) کيلو ګرامه خورما شامله ده. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته ور پېژندل سوي.

د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي ګرځنده څارني کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د هرات ګمرک کارکوونکو ته له ګمرکي چارو سره د بلدتيا په موخه روزنيز پروګرام پيل سو



د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ د روزونکو له لوري د ساحوي روزنيزو پروګرامونو په ترڅ کي د هرات ګمرک رياست (۲۶) تنو کارکوونکو ته د ګمرکي مسايلو او قوانينو په اړه روزنيز پروګرام پيل سو. په دغه روزنيز پروګرام کي به د کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په موخه په عملي او نظري ډول د ګمرکونو قانون، ګمرکي کرنلارو، ګمرکي بيې ټاکني، تعرفې او ګمرکي اظهارليکونو د ډکولو په اړه ګډونوالو ته روزنه ورکړل سي. ياد روزنيز پروګرام، چي يوه مياشت به دوام ولري ورسره به په اړوندو ګمرکي برخو کي د کارکوونکو وړتياوي لوړې سي او په اړوندو چارو کي به لا ډېر ښه والی رامنځته سي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# Implementing Digital Payment Systems in Afghanistan

By: Sayeed Razmenda

... second part

**3. Challenges in Implementation**

3.1 Digital Literacy Gaps

Illiteracy remains a big challenge in Afghanistan, as most people do not know even the basic concepts of banking, let alone the technicalities of the digital system. This bridging possibility could arise with public awareness, either by the Ministry of Finance or by the Central Bank. With reports in the BBC regarding the usage of SMS to pay their electricity bills by thousands of Afghans, it reflects a dire urgency of more encompassing educative processes, for these types of practices will hardly find applications with wide-ranging consequences.

3.2 Infrastructure Inadequacies

Successful digital payment systems do require reliable internet and digital infrastructure. High costs of internet and unequal network coverage in rural areas add to the digital divide, hence making widespread adoption very difficult. Predictive estimates indicate that a 30% reduction in internet costs could double digital payment adoption in five years.

3.3 Cultural Resistance

The Afghan economy is mainly cash-based, due to traditional cultural beliefs.This behavior can only be transformed through sustained public outreach and communication of the benefits associated with digital payments.

3.4 Cybersecurity Risks

Increased digitalization naturally means increased exposure to cyberattacks. In order to protect the data of users and subsequently gain their confidence, Afghanistan needs to develop secure platforms that follow international standards such as OWASP.

**4. Strategies for Digital Transformation in Afghanistan**

4.1 Infrastructure Development

Investments shall be made into resilient Internet and mobile networks, including interoperable banking systems. The role of public-private partnership in financing and deploying infrastructure projects will be crucial.

4.2 Financial Literacy Campaigns

Large-scale education programs are indispensable for familiarizing the citizens with digital systems. These programs should reach rural areas and explain how digital transactions are more convenient and secure.

4.3 Encouragement of Mobile Money Services

Telecom companies can further the reach of financial services through mobile money platforms. SMS-based services, such as electricity bill payments, illustrate how such solutions are available even in low-tech environments. Scale these up, and 10 million more citizens could be digitally included over a decade or so.

4.4 Securing Cyberspace

The digital transformation of Afghanistan should be developed with a robust security perspective to avoid fraud and cyber-attacks, by establishing a regulatory framework and training cybersecurity professionals.

**5. Case Studies: Afghanistan's Early Steps**

5.1 SMS-Based Electricity Bill Payments


The few successful digital payment initiatives include bill payments for electricity via SMS. Although the system has eased the process for thousands of users, the limited awareness and resultant uptake shows the wider outreach required. Predictive scaling models indicate that scaling similar SMS-based services to tax collection will result in an improved compliance rate of 20%.

5.2 Credit Card Adoption in Urban Areas

About 300,000 people in urban towns take advantage of credit-card services, mostly in purchases in some outlets (BBC: 2015). Again, these services are also limited to just a few banks and a few areas, again testimony to the need for expanded coverage and interoperability. Credit card access can be extended to 1 million users and is likely to add as much as US$ 500 million annually to the formal economy.

**6. Conclusion**

The digital payment adoption journey in Afghanistan is very painful yet very promising. These include illiteracy, poor infrastructure, and cultural resistance; hence, the government, private sector, and international organizations must work in concert. Investment in education, infrastructure, and security will finally allow Afghanistan to move toward a more efficient, transparent, and inclusive payment ecosystem that unlocks economic growth and improves public services. Predictive analysis




shows that, if this effort is kept up, Afghanistan can achieve 50% in the adoption rate of digital payments over the next decade and make considerable contributions toward its economic resilience.

**References**

Dev, H., Gupta, R., Dharmavaram, S., & Kumar, D. (2024).
From Cash to Cashless: UPI's Impact on Spending Behavior Among Indian Users. ACM.

Mickey, S. H., & Yanhaona, M. N. (2024).
An Investigation of the Online Payment and Banking System Apps in Bangladesh. ArXiv.

Visa/AT Kearney. (2022).
The Transformational Power of Digital Payments for Governments. Whitepaper.

BBC Persian. (2015).
ترویج معاملات دیجیتلی در افغانستان و چالش های آن.
https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2015/12/151224_k04_digital_shopping_in_afghanista


# اعلانات داوطلبی

**داوطلبی خبرتیا**

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چې د کابل ښاروالۍ (۱٦) مې ناحیې اړوند د بگرامي نساجي فابریکې (۳) ملکیتونه د دریو کلونو له پاره د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندې کړي.

۱- د بگرامي نساجي فابریکې اړوند یو باب هنگر سره له آزادې ساحې چې (۱۷۳۱) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴۲۵۵۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤۷۸۳٤ - ۳٤,۵۰۵۱۰۵

۲- د بگرامي نساجي فابریکې له محوطې څخه وتلې د عمومي سړک پر سر یو باب خونه چې (۴۲،۷۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۲٤۷۸۳٤ - ۳٤,۵۰۵۱۰۵

۳- د بگرامي نساجي فابریکې په داخل کې یو باب هنگر چې (۳۸۹) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲٦۲۵۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۲٤۷۸۳٤ - ۳٤,۵۰۵۱۰۵

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورته یاد سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ مرغومي/ ۲۳) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ دلو/٦) نېټې پورې د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.

ادرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ دلو/ ۷) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې:۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**اعلان داوطلبی**

مستوفیت ولایت هرات موازی ۱۰,۲۱ جریب زمین خالی با حق الاجاره ماهوار مبلغ (٦۸۷۰۳) افغانی با کوردینات ( ۳۱۷٤۲۷-x ) و ( ۳۸٤۲۰۷۲-y) واقع نقطه صفری مرز اسلام قلعه ملکیت ریاست محترم گمرک ولایت هرات را از طریق مزایده و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک دولتی به اجاره میدهد.}

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان حق الاجاره اراضی فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (١٤) یوم اعتبار از تاریخ ۲۵ جدی سال ١٤٠٣ الی ٨ دلو سال ١٤٠٣ به مدیریت عمومی املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

تاریخ مجلس داوطلبی و آفرگشایی ۹ دلو سال ١٤٠٣ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد.

آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک دولتی

شماره تماس : ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

**علان داوطلبی**

مستوفیت ولایت هرات ساحه ۲ باب غرفه واقع داخل گمرک اسلام قلعه و هرات ملکیت ریاست محترم گمرک ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه همجوار از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتي به اجاره دهد.}

١- ساحه یکباب غرفه موازی ۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۰۰۰) افغانی.

۲- ساحه یکباب غرفه موازی ۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن غرفه های فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۲۵ جدی سال ١٤٠٣ الی ۱۵ دلو سال ١٤٠٣ به مدیریت عمومی املاک امارتي مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

تاریخ مجلس داوطلبی و آفرگشایی ١٦ دلو سال ١٤٠٣ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد

آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک امارتي

شماره تماس : ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د خونو جوړونه، د هنگر دیوالونه رنگول او د پکتیا مستوفیت د اطراف کانگرېټ ریزی په پروژه) کې چې تشخیصیه نمبر ئې (۱۰۷۱-W/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لارې د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: د مالیې وزارت د تدارکاتو ریاست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري په رسمي ویب سایټ.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (سلواغې/ ۱۴۰۳/۰۹) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: اویه زره (۷۰۰۰۰) افغانۍ.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

په ځنډ رسېدلې او انټرنیټي آفرونه د منلو وړ نه دي.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)






# Another Great Step Towards e-Governance: MoF Revamps AFMIS System



MoF has effectively developed AFMIS (Afghanistan Financial Management Information System) in accordance with international standards, which will enable and complete transparency effective management, complete control, financial reporting and cost control of Afghanistan's public financial sector. Previous AFMIS system was created and implemented by the 'FreeBalance Company' in 2002, all technical matters were under the control of the said company, and the system was also faced with low operating speed and high cost. Nevertheless, the leadership of MoF decided for the renovation of AFMIS system that can be responsive to current needs, and has the capability to make changes independently. Renovation of AFMIS is a strategic achievement in term of improving Afghanistan's financial management. This system right now has the full capacity to be connected with the relevant vital financial systems, which provides an opportunity for the linkage of better coordination among IEA-run bodies in the financial sector. The new AFMIS system has been successfully examined in 14-key-ministries, and eight provincial Mustofiyats of Afghanistan as well. The General Directorate of Treasury has provided 'professional training' to relevant staff for the aim of setting and implementing the system, which MoF assures the aforementioned system is implemented swiftly.

# General Directorate of Customs Launches Reconstruction of Destroyed Parts of 'Kabul International Airport Customs', 'Kabul Customs'



The General Directorate of Customs of MoF has started the reconstruction of 'Kabul International Airport Customs' and Kabul Customs archive's shelves, administrative buildings and hangars worth over 5.1 million Afs. With the implementation of these projects, in addition to the safe keeping of customs documents, facilities will also be provided for the employees of the aforementioned customs and traders in various fields. The cost of these projects is paid from the development budget of MoF, which will be completed within the next 10 months. Notably, MoF has implemented many development projects at different customs for the aim of creating convenience for businessmen and for the further growth of business in the country, and some of the projects are in implementation process.




# د سورخندریا په سیمه کي د اُزبکستان - افغانستان گډ بازار دننه حال





د دریـا ـ Daryo پـه نـوم اُزبکـۍ رسـنۍ د افغانسـتان او اُزبکسـتان تـر منـځ پـر پولـه بانـدي د جوړ گـډ بـازار خـوا تـه کتنـه کړې ده. پـه دې راپـور کـي د بـازار د دوکانونـو حالـت، د گـډ بـازار ارزښـت او د ډالـر پـر ځـای لـه سـیمه ییـزو پـولي واحدونـو پـه تـړاو ځـو ټکـو تـه اشـاره سـوې ده. پـه لومـړي سر کـي د بـازار د موقعیـت او پراخـوالي پـه اړه معلومـات ور کـوي، چـي وايـي د سـورخند پـه سـمیه کـي پـه (۱۲۰) هیکټـاره مځکـه کـي جـوړ دئ؛ هوټلونـه، طبـي اسـانتیاوي، رېسـټورانټونه او ... لـري. مـتن ټینـگار کـوي او وایـي دا داسي بـازار دئ، چـي د افغانسـتان او اُزبکسـتان تـر منـځ اقتصـادي او فرهنگـي غوټـه تـړي او دواړه ملکونـه یـو بـل تـه نیـږدې کـوي.

یـاده اُزبکـۍ رسـنۍ کاږي، چـي دمگـړۍ (۵۰۰) فعـال دوکانونـه لـري او د ډېریـو هغـو افغـان - متشـبثینو ملاتـړ پـه کېـږي، چـي پـه سـوداگریزو فعالیتونـو کـي ښـکېل دي. بـل اړیـن ټکـی دا دئ، چـي افغانـان بـې لـه ویـزې ور تلـلای سي او د سـوداگرۍ پـه نیـت حتـی تـر (۱۵) ورځـو پـوري پـه هوټلونـو کـي پاتېـدلای سي. ډېرې افغان سـوداگر دا بازار د دواړو هیوادونو لـه پـاره د اقتصـادي ودي یو مهم ځرخ گڼي. دریـا لـه بلـه پلـوه زیاتـوي، چـي پـه دې بـازار کـي پـه امریکایـي ډالـرو راکـړه ورکـړه بنـده ده. وایـي یـوازي افغانـۍ او سـوم تـه اجـازه ده؛ تـر ځـو د دواړو یـادو ملکونـو محـلي پیسـې رشـد پیـدا کـړي او اقتصـادي پیاوړتیا تر لاسـه کړي.


## د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱





## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هـر هیـوادوال، چـي د مالیـې وزارت د اړونـد چارو پـه تـړاو ستونزه یـا شکایت ولـري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو لـه خپلـواک آمریـت سره ئـې پـه حضـوري بڼـه او یـا د لانـدي ادرسـونو لـه لاري شریـک کـړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷٥٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.